# زېړی

**پښتولس ورځنۍ جریده**

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي


که مـــــوږ یــــــو لـــــه بلـــــه پـــــوه شـــــو
نـــــور کارونـــــه تـــــول اســـــان دي
قتلـــــوي مـــــو پـــــه خپـــــل مـــــنځ کـــــې
وایـــــي خپـــــل یـــــو غلیمـــــان دي
مـــــوږ پـــــه ســـــرو وینـــــو کـــــې رغـــــړو
دوی چکچکـــــې کـــــړي خنـــــدا کـــــړي
منتظـــــر دي هغـــــه وخـــــت تـــــه
چـــــې بـــــه کلـــــه مـــــوږ تبـــــاه کـــــړي

احمد شاه بابا (رح)


چهارشنبه ▣ ۲۱ – ۲۴ مه ګڼه ▣ درېمه دوره ▣ پرله پسې ۲۴۵ – ۲۴۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د کب (حوت) ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۷ هـ ق کال د جمادي الثاني ۶ مه ▣ ۲۰۱۶ زېږدیز کال د مارچ ۱۶ مه


د خورا پېرزو کوونکي او لوروونکي الله په نامه

## سرلیکنه

### ستري فرهنګي پېښې

پښتو ژبه، چې د تاریخي افغانستان اصلي، ملي او رسمي ژبه ده او د ګران هېواد، سیمې او نړۍ په کچه، تر شپېته میلیونه زیات خلک پرې خبرې کوي، په پېړیو پېړیو، د کتاب د چاپ له نعمت نه بې برخې وه، د ساتنې او پالنې ټوله ښکلا یې، د ولسي ادبیاتو او فولکلور په ډګر کې خوندي وه. د زمانو په تېرېدو سره، داسې وخت را ورسېد، چې په پېړۍ کې یو کتاب چاپ شو، بیا په نیمه پېړۍ، لسیزه، کال، میاشتې، اوونۍ او ان خبره، ورځې ته را ورسېده او اوس نژدې ده، چې د پښتو کتابونو د چاپ دغه لړۍ، نور هم پرمختګ وکړي او خبره، تر ساعت او شېبې پورې ورسېږي. ویل کېږي، چې اوس – اوس، هره ورځ، په هېواد کې دننه او بهر، کابو له یوه تر دیارلسو پورې، د مختلفو موضوعګانو په برخه کې پښتو آثار چاپېږي. دا د ډېرې خوشحالۍ خبره ده.

د دې یو علت دا دی، چې د چاپ وسایل ډېر شوي، ادبي او کلتوري

## پښتو لهجو ته سرسري کتنه

▣ نجیب منلی

تر هغه ځایه، چې زه معلومات لرم، تر نولسمې پېړۍ وړاندې د پښتو پر لهجو کوم څېړونکي خاص تمرکز نه دی کړی. په نولسمه پېړۍ کې انګرېزي مستشرقینو پښتو په «کلکه» او «نرمه» لهجو ووېشله، چې کلکه یې د ختیځو سیمو لهجه وه (پختو) او نرمه یې د لوېدیځو سیمو لهجه وه (پشتو). د دغو دواړو لهجو تفکیک، پر دوو پښتو غږونو ولاړ و:

«ښ» چې په کلکه لهجه کې «خ» ویل کېږي او په نرمه لهجه کې «ش» ویل کېږي.

«ږ» چې په کلکه لهجه کې «ګ» ویل کېږي او په نرمه لهجه کې «ژ» ویل کېږي.

د شلمې پېړۍ په پیل کې، غربي پوهانو د «وزیري غږ اوښتون» (Waziri Metaphony of) موضوع هم مطرح کړه (په وزیري لهجه کې عام منل شوي غږونه / ā, o, u / پر /o, e, i/ اوړي:

پـــــلار /plār/ => پلـــــور /plor/
مـــــور /mor/ => مېـــــر /mer/
لـــــور /lur/ => لیـــــر /lir/

شاوخوا ۲۵۰ کلیو او بانډو کې نږدې ۲۶۹ پوښتنلیکونه، چې شاوخوا دوه زره ژبني توکي په کې ارزول شوي وو، ډک شول او د پښتو لهجو د څېړنې له پاره یې لاره هواره کړه. په دې څېړنه کې، د نورو تر څنګ، د پښتو ژبې نامتو څېړونکو شاکر، زیار، ثنا او پالوال فعاله ونډه اخیستې وه. له بده مرغه، د افغانستان د ژبني اطلس پروژه د ثور له کودتا وروسته، د سویسي ژبپوه ژورژ رودار له خوا ودرول شوه. راټول شوي مواد لا اوس هم د سویس په برن پوهنتون کې خوندي دي.

د نوو څېړنو او مشاهداتو په نتیجه کې، اوس دا منل شوې خبره ده، چې د پښتو لهجو موضوع، تر هغه څه چې په نولسمه پېړۍ کې پوهانو ویلي وو، ډېره پېچلې او پراخه ده. دغه بدلونونه تر ډېره حده جغرافیایي بلل کېږي، خو احتمال شته، چې قومي عنصر په کې هم مهم نقش ولري.

هغه غږونه چې تلفظ یې په بېلابېلو لهجو کې سره اوړي، دا دي:

واولونه: ā, e, ə, i, o, u

کې شمېرل کېده، خو اوس څېړونکي په دې اند دي چې په واڼیځي کې د عامې پښتو په نسبت خورا ډېر بدلون راغلی، نو باید واڼیځي ژبه وبلل شي، نه لهجه.

له هغه مهاله، چې په شپاړسمه پېړۍ کې پښتو لیکدود د منل شویو سیستمونو په بڼه ترتیب شوی دی، پوهانو د ژبې «بین اللهجوي» (Inter-dialectal) بڼې ته پام کړی دی او هغه کلمې چې په بېلابېلو سیمو کې په بېلابېلو ډولونو ویل کېږي، د هغوی د لیکلو له پاره یې خاص توري وضع کړي دي.

په لیکلې ژبه کې، هغه کلمې چې د پورتني جدول له مخې سره اوړي را اوړي، د املا له پاره یې باید د جدول د ښۍ برخې توري وکارول شي.

«زلمی» په هره لهجه کې «زلمی» دی، نو په «ز» لیکل کېږي، په «ځ» لیکل یې غلط دي، «زانګو» هم باید «ځانګو» ونه لیکل شي.

«ځای» په ځینو لهجو کې «ځای» ویل کېږي، په نورو کې «زای» یا «جای»، نو په «ځ» لیکل یې سم

ټولنې ډېرې شوې دي . د دې تر څنګ، په ځوانانو کې فرهنګي شعور زيات شوی، په ولس کې د دې شعور بيدار شوی، چې له فرهنګيانو سره، د آثارو د چاپ په برخه کې مالي مرستې وکړي. اوس که حکومت، له فرهنګيانو سره هېڅ راز مرسته و نه کړي، په ولس کې د دې ظرفيت شته، چې د پښتو کتابونو د چاپ دغه لړۍ، نوره هم وغځېږي. خو څرنګه چې، حکومت هم، د فرهنګ د غوړېدا او خپراوي په برخه کې، خپل مکلفيتونه لري، پر دې مکلف دی، چې په دې اړه، خپله دنده سر ته ورسوي .

۱۳۹۴هـ. ل. کال، د پښتو ژبې د آثارو د چاپ په برخه کې، يو ښه کال و. په دغه کال کې، د ګڼو آثارو د چاپ تر څنګ، د لومړي ځل له پاره( د پښتو – چينايي ژبې قاموس) چاپ شو. پښتو د (ګوګل) د نړيوال جال په مهمو ژبو کې را څرګنده شوه او د بېلا بېلو ټولنو له خوا، د نويو چاپ شويو کتابونو د مخکتنې غونډې وشوې.

(د افغانستان ملي تحريک) له لوري، د کب په۲۷ مه نېټه، د هېواد د يو شمېر فرهنګپالو د مالي ملاتړ په مرسته، د يوه فرهنګي انقلاب په لټه، د يو سلو او دوه عنوانو چاپ شوو کتابونو مخکتنه وشوه، چې کابو ۴۰ سلنه يې، اکاډميک او د پوهنتونونو تدريسي آثار دي. په هغه غونډه کې، چې له دې امله، د کابل ښار، په کابل ستار هوټل کې جوړه شوې وه، د دې زېری هم ور کړ شو، چې په راتلونکي کې به هم، د چاپ دغه لړۍ نوره هم وغځېږي .

بې له شکه، دا يوه ستره او بې ساري فرهنګي پېښه وه، چې پخوا يې، چا خيال هم نه شو کولای. له دې امله، د زېري جريدې کارکوونکي، (د افغانستان ملي تحريک) دغه ستر فرهنګي خدمت ستايي ،کاري ټيم او ملګرو ته يې، د زړه له کومې مبارکي وړاندې کوي. ور سره دا تاکيد هم کوي، چې په راتلونکي کې، د معياري کتابونو د غوراوي او چاپ په برخه کې، له لازم احتياط او ځير کتيا نه کار واخلي او هغو ته، د چاپ په برخه کې، لومړيتوب ورکړي. څومره به ښه وي، چې په راتلونکي کې، په هر ولسو چاپ کتابونو کې، يو د کوچنيانو او يا د کوچنيانو له پاره په پام کې ونيول شي. په دې ډول،د کوچنيانو زړونو ته ، د لارې موندلو چانسونه ډېرېږي او د لوستونکو له منځ نه، د ليکوالو شمېر هم، را ډېرېدی شي.

وروستي پرمختګ بيا، په ۱۹۶۰ لسيزه کې د درېو لهجو منل و، چې بيا يې هم تفکيک د هماغو دوو غږونو (ښ او ږ) پر بنسټ و :

د ختيځې لهجې مرکزيت پېښور او جلال اباد بلل کېدل، د لوېديځې لهجې مرکزيت کوټه او کندهار وو او د منځنۍ ژبې مرکزيت پکتيا او وردګ ګڼل کېدل.

| غږ | ختيځه لهجه | منځنۍ لهجه | لوېديځه لهجه |
| --- | --- | --- | --- |
| ښ | خ /x/ | ښ /{ṣ}x̌/ | ش /š/ |
| ږ | ګ /g/ | ږ /{ẓ}ğ/ | ژ /ž/ |

د ۱۹۷۰ لسيزې په لومړيو کلونو کې، د يو پراخ څېړنيز کمپاين په ترڅ کې ،د افغانستان د ژبني اطلس له پاره د موادو د راټولولو په موخه، ژبپوهانو د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې ژبني معلومات راټول کړل. د پښتو څېړنو په برخه کې د هېواد په

چوپ غږونه :

چ => چ، څ، س (چې <= چې، څې، سې)

څ => څ، س (څنګه <= څنګه، سنګه)

ځ => ځ، ز، ج، څ (ځای <= ځای، زای، جای –ځم <= ځم، زم، څم)

ژ => ژ، ج، ز (ژبه <= ژبه، جبه، زبه)

ږ => ګ، ږ، غ؟، ي، ژ ( ږيره <= ګيره، غيره؟، ييره، ژيره)

ش => ش، س (مشر <= مشر، مسر)

ښ => خ، ښ، ش ( ښځه، خزه، شځه)

د دغو عمده بدلونونو تر څنګ، ځينې فرعي بدلونونه هم راځي (خدای <= خلای...). همدا راز يو شمېر ګرامري بدلونونه هم شته، لکه د (ده /دی، راغله /راغلل، ...) وانيځي ژبه ، که څه هم تر يو وخته د پښتو په لهجو دي.

«ژرنده» چې «ژرنده»، «زرنده» او «جرنده» ويل کېږي، په «ژ» سمه ده.

«سږکال» د «سږ کال»، «سګ کال»، «سغ کال» او «سژکال» په بڼه ويل کېږي، نو بايد په «ږ» وليکل شي.

«ښکاره» چې «ښکاره»، «خکاره» او «شکاره» په بڼه ويل کېږي، بايد په «ښ» وليکل شي، خو «خبره» په هر ځای کې «خبره» ده، نو بايد په «خ» وليکل شي. پورته مثالونو ته په پام سره، کله چې د يوې کلمې په املا کې شک پيدا شي، نو هڅه دې وشي، چې په نورو لهجو کې، حتی په (ګاونډيو ژبو) کې دې وکتل شي، چې څنګه تلفظ کېږي ،بيا به يې په ليکلو کې ډېره ستونزه نه وي .

# د اثر ادبيت

اسدالله غضنفر

د شلمې پېړۍ نامتو مفکر او عالم برترند راسل ويلي دي چې :« شکسپير هېڅکله د دې له پاره څه ونه ليکل چې د ښوونځي ماشومان په تکليف کړي، بلکې ده د خپلو لوستونکو د خوشحالولو له پاره ليکنې کولې. که چېرې د شکسپير له ليکنو خوند نه اخلئ، مه يې لولئ.»

له هنر څخه استفاده همېشه بې زحمته نه وي، بلکې د معلوماتو يوه سويه او تربيت شوی ذوق غواړي. موږ که غواړو د ادب له يوه شهکاره خوند واخلو ، اول به سواد زده کوو، بيا به په يو څه لغتونو او اصطلاحاتو ځان پوهوو او بيا به په ساعتونو ساعتونو لوستلو ته وخت ورکوو، چې اثر تر پايه ولولو او خوند ورنه واخلو. له هنري اثره استفاده کول په دې ارزي، چې يو څه زحمت په ځان تېر کړو. د شهکارونو لذت او اغېز له کلونو وروسته هم تر يوه حده پورې له موږ سره وي. د تېرو کلونو يو مادي خوند يوازې يوه مجرده خاطره وي، چې اکثره وخت د حسرت سبب کېږي، خو په تېرو کلونو کې لوستی شهکار اوس هم راسره وي او له موږ سره اوسي.

د ډېرو عادي لذتونو لپاره هم بنيادم يو څه زحمت ته مجبورېږي. له ادبي اثره خوند اخيستل په دې ارزي، چې يو څه کړاو وګالو. زه اکثره وخت دوستانو په زور له ښاره ايستلی او مېلې ته بېولی يم، ځکه د موټر د مزل حوصله يې راسره نه وي ،خو د سفر او مېلې په پای کې خوشحاله راستون شوی يم.

البته، د برترند راسل خبره له دوو جهتونو سمه ده.

يو دا چې ادبي اثر په اصل کې د نورو د کړولو له پاره نه، بلکې د لذت له پاره ليکل کېږي. هغه ليکوال چې خپلې خبرې ډېرې مهمې ګڼي او له لوستونکو توقع لري، چې د ده په خبرو د پوهېدو له پاره دې خامخا ځانونه په تکليف کړي، اشتباه کوي. ادبي اثر، د بل هر هنري اثر غوندې، بايد خوندوروي او تر وسه وسه، په داسې انداز ليکل شوی وي، چې لوستونکی ورنه په اسانۍ سره استفاده وکړي.

بله دا چې د ادبياتو د زده کړې په وخت کې، ډېر ځله د ادبي اثر په پېچليو اړخونو دومره زيات تاکيد کېږي، چې د تدريس له پاره د آثارو په انتخاب کې خوند او ښکلا نه، بلکې پېچلتيا په اصلي معيار بدلېږي. د افغانستان د معارف کتابونه زموږ د دې ادعا ښه مثالونه دي. اکثره هغه ليکنې، چې د ادبياتو په تدريسي کتابونو کې راغلي دي، يوازې نادر لغتونه، مشکل تعريفونه او پېچلي معلومات پکې وي، نه خوند او ښکلا. يو لوستونکی که د ادبي اثر ښکلا درک نه کړي، که نور يې ټکي په ټکي هم زده کړي، ده به ادبي زده کړه نه وي کړې.

ادبي اثر، بايد تر هر څه له مخه لوستونکي ته خوند ورکړي او د لوستونکي ذوق وروزي. هر هغه اثر چې ذوق ورسره روزل کېږي او ادبي خوند پکې شته، ادبي ارزښت او ماهيت لري. خو زموږ د معارف او پوهنتونونو په تعليمي کتابونو کې د خوند او ښکلا عنصر ته لازمه توجه نه کېږي. حقيقت دا دی، چې د معارف او پوهنتون په لړو تدريسي متنونو کې خوند او ښکلا شته او داسې موارد کم دي، چې زده کوونکی د تدريسي کتاب يو متن په خوند ولولي. که دغه خوند احساس نه شي، په حقيقت کې زده کوونکي ادبي تجربه نه ده کړې او د ادب په نوم يې بل څه لوستي دي.

د دې له پاره چې په پوهنتونونو او ښوونځيو کې مو ادبي کتابونه واقعاً ادبي شي او ګټه يې ورسېږي، دوو ټکيو ته پام پکار دی: يو دا چې دا خبره بايد سپينه شي، چې يو اثر که خوند ونه لري او ښکلا پکې نه وي، هغه به هر څه وي، خو د ادبي اثر نوم ورسره نه ښايي. بله دا چې د ادبي اثر د انتخاب له پاره دې خامخا له باذوقه کسانو استفاده وشي او له هغو کسانو سره دې مشوره وشي، چې ادب په واقعي معنا پېژني، له ادبياتو سره ژوند کوي او د ادبي آثارو د ايجادولو يا کره کتنې واقعي استعداد لري.

# د ((ژبساتنه)) نومي کتاب منځپانګې ته کتنه

څېړنپوه مولاجان تڼيوال

(۲)

د ((ژبساتنه)) نومي کتاب مؤلف د نورو موضوعاتو تر څنګ په (( پښتو ليکدود دوه نيم زره کلنه تاريخچه )) نومې موضوع باندې غږېدلی دی. د همدې موضوع په پيل کې يې ويلي دي، چې پښتو ژبه د اريايي ژبو د کورنۍ ځينو لرغونې تاريخي غړې ده. تر دې وروسته يې، دا يادونه هم کړې ده، چې پښتو ژبه، د اريايي ژبو د هندي او ارياني ګروپ په منځ کې اوسېدله او د دې دواړو په منځ کې يې، د وصل د کړۍ دنده تر سره کړې ده. دا ژبه د دې دواړو ډلو مشترکات لري او له دواړو خواوو سره د ژبنۍ راکړې ورکړې اغېزه په کې مومو. که له دې يادونې څخه تېر شو، چې ځينو نورو ژبپوهانو هم، د پښتو ژبې د موقعيت په اړه همداسې څرګندونې کړې دي، نو دا بايد ووايو، چې د استاد رفيع په څرګندونه کې، يوه بل ټکي ته هم نغوته شوې ده او هغه ټکی دا دی، چې ګاونډۍ ژبې او په يوه موقعيت کې پرتې ژبې، له متقابل تاثير څخه په ډېره نشي پاتې کېدای، خو د دې متقابل تاثير اغېزې، هغه وخت سرې جوتولای شي، چې د پوره علمي صلاحيت څښتن وي.

استاد رفيع د همدې موضوع د څېړلو په ترڅ کې، د بېلګې په توګه رېټو فلکس غږونه او همدا شان د ((ځ، څ، ږ او ښ )) غږونه ياد کړي او ويلي يې دي، چې وروستي غږونه يې، دارياني مرکزي غږونو سره شريک دي.

د پورتني سرليک د څېړلو په لړ کې، استاد رفيع د پښتو ژبې د لرغونتوب په اړه ويلي دي، چې د پښتو ژبې د جوړښت او لرغونتوب په برخه کې، کورنيو پوهانو او ختيځ پوهانو ژورې څېړنې کړې دي او داسې کسان هم په کې شته، چې پښتو ژبه د ژبو مور بولي او له ډېرو زړو ژبو څخه يې شمېري. ځينې پوهان يې د اريک ورکه ژبه بولي او ځينې نور يې، د اوېستا سره د يوې کورنۍ ژبه ګڼي. دی وايي، چې ځينې پوهان، تخاري ژبه د اوسنۍ پښتو لرغونې شکل بولي او يو شمېر نور پوهان، بيا همدغه تخاري ژبه، د پښتو او پاميري ژبو د منځنيو اسلافو څخه ګڼي.

د پښتو ژبې د لرغونتوب په برخه کې پورتنۍ يادونه، څه د حيرانتيا خبره نه ده، ځکه چې داسې نظر هم شته، چې پښتو ژبه د ژبو ((جد)) بولي او که چيرې د نسب د سلسلې او ږدوالي ته وکتل شي، طبعي خبره ده، چې د مور او جد تر منځ د نسب خپلوي، خورا ډېر کلونه په بر کې نيسي .

دا چې د ځينو ليکونو ګروهه دا ده، چې پښتو، پښتونخوا ته، د اسلام د سپېڅلي دين تر راتګ د مخه، يوائې د ويلو ژبه وه او ليک يې نه درلود. استاد رفيع د مثالي بېلګو په راوړلو سره دا نظر رد کړی دی. د کتاب ليکوال د همدې ټکي د زيات وضاحت په موخه، ژوره څېړنه نه ده هېره کړې او ويلي يې دي، چې تر ټولو ډېره زړه ليکنه، چې د ليکنۍ پښتو څرک ترې لګي، هغه د ايران د بېستون د غره ډبرليک دی، چې له نن څخه دوه نيم زره کاله وړاندې، د لوی داريوش له خوا کښل شوی، چې په څلورم ستون کې يې، يوه پښتو اخلاقي حماسه راغلې ده .

ددې په خوا کې استاد رفيع، د هغه ليکدود په برخه کې هم غږېدلی دی، چې دده په قول، له نن څخه دوه نيم زره کاله وړاندې، د هخامنشيانو د واکدارۍ په ختيځو برخو کې منځ ته راغئ او خروشتي ليکدود يې باله. دا لېکدود، اته سوه کاله وچلېده يعنې تر مېلاد درې پېړۍ د مخه، په ټوله اريانا کې خپور شو او تر پنځمې مېلادي پېړۍ پورې، په ټوله اريانا کې دود و. دا ليکدود، په اريانا کې را منځ ته شوی او همدلته له منځه تللی دی. دا چې دا ليکدود، ولې له منځه ولاړ، کېدای شي چې يوناني ليکدود او عربي ليکدود به يې عمده علتونه وي. دا ډول څرګندونې، د استاد رفيع په څېړنه کې، په مفصل ډول تر سترګو کېداي شي او دا ترې ښکاري، چې پښتو تر اسلامي دورې دمخه، په تخاري – يوناني ليکدود هم کښل شوې ده. د کتاب ليکوال، يوه بل ټکي ته هم متوجه شوی او هغه د ((اوږمۍ)) کلمه ده.

ليکوال د سپوږمۍ کلمه په عربي ژبه کې څېړلې ده، په دې معنا چې، د سپوږمۍ برخې يې په عربي ژبه ښودلې او وروسته يې د مياشتې پيل، منځ او پای په پښتو ژبه په ډېر قوت سره ښودلي، د اوږمکۍ د کلمې برخه يې، د مياشتې په تشکيل کې په ګوته کړې او ويلي يې دي، چې د (هلال) يا نوې را برې شوې مياشتې معنا لري، د مياشتې ټول (تمام) حالت يا بدريې سپوږمۍ ښودلې او د محاق دوره يې، (تروږمۍ) بللې ده، او د قمر د ګُرې په اړه يې ويلي دي، چې اوږمۍ ور ته وايي.

استاد رفيع د اوږمۍ کلمه او د هغې مفهوم، په مثالونو کې ښودلی او وايي چې، د سپوږمۍ کلمه، د اوږمۍ په وروستاړي جوړه شوې او وروسته لنډون په کې راغلی دی. دی په دې څېړنه کې، د لنډون په ښودلو سره، موږ د ترکيبي کلمو لنډون ته متوجه کوي او دا را ښيي، چې په اصل کې کومې کلمې سره مرکبې شوې او اوسني شکل يې، څنګه خپل کړی دی.

نور يې بله ګڼه کې

# د استعارې او کنايې تر منځ توپير

محمد طاهر شرر ساپي

استعاره بليغه تشبيه ده، خو يو اړخ يې حذف شوی دی.

له دې خبرې جوتېږي، چې په تشبيه کې دواړه خواوې (مشبه، مشبه به) موجودې وي، کله چې يوه هم لرې شي، نو بيا ورته تشبيه نه شو ويلی، بلکې نوی نوم اخلي، استعاره ورته وايو. اوښکې مرغلرې دي، مرغلرې يې له سترګو راتويې شوې.

د استعارې ډولونه :

ا.صريحه استعاره: هغه استعاره ده ،چې مشبه په کې لرې شوې وي او مشبه به په کې پاتې وي بېلګه: چې په خپلې بېوزلۍ مې ژړا راغله مرغلرې مې لمنې کې راتوی شوې شاعر خپلې اوښکې له مرغلرو سره تشبيه کړې دي، مشبه (اوښکې) يې لرې کړې او مشبه به (مرغلرې) يې يادې کړې دي.

ب.مکنيه استعاره: هغه استعاره ده، چې مشبه به ترې لرې شوې وي، خو د هغې يو صفت په کې پاتې وي، چې مشبه به ته اشاره کوي. بېلګه: سپرلي څيري کړ ګريوان حمزه بابا سپرلی د انسان سره تشبيه کړی دی، بيا يې د انسان له صفاتو څخه چې ګريوان او د هغې څېرول دي، راوړي دي .

ج_ تمثيلي استعاره: دا په اصل کې تمثيلي تشبيه ده، چې مشبه( اوسنۍ حالت او بڼه) ترې حذف شوې او مشبه به چې (پخوانی حالت دی)، د پخوانيو کليمو او بڼې سره ياد شوی وي. دا هغه لنډې ويناوې دي، چې په يوې ځانګړې پېښې کې ويل شوې او وروسته يې د متل بڼه غوره کړې ده.

بېلګه: هلته څه کار چې نه کار دغه متل د يوې ځانګړې پېښې له پاره ويل شوی دی، خو چې اوس يې موږ کاروو، نو په هم هغو کليماتو او بڼه يې د نوې پېښې لپاره کاروو، خو نوې پېښه نه يادوو. نوې پېښه، له هغې زړې پېښې سره تشيه کوو، چې دغه خبره په کې ويل شوې ده.

کنايه:

د کنايې تعريف: هغه تعبير دی، چې حقيقي معنا ترې مقصد نه ده، خو د حقيقي معنا ملازمه معنا ترې اخيستل کېږي . دا نجلۍ پاک لمنې ده، دا له دې نه کنايه ده چې دا نجلۍ سپېڅلې ده، په سرېې خاورې بادولې......

د استعارې او کنايې تر منځ توپير: په استعاره کې قرينه موجوده وي، چې د حقيقي معنا مخه نيسي، کله چې موږ ووايو :له سترګو يې مرغلرې راتوېدلې، نو دا واضح خبره ده، چې له سترګو نه اوښکې راتوېږي، نه مرغلرې، خو په (کنايه) کې داسې قرينه نه شته، چې د حقيقي معنا مخه ونيسي، د مثال په ډول: دا نجلۍ پاک لمنې ده، کيدای شي، چې حقيقي لمن يې پاکه وي، په سرېې خاورې بادولې، کيدای شي، چې په حقيقت کې يې پر سر خاورې بادولې.

---

دخپل درد خبرې کړي ، زړه دې يوه نوي ازمون ته پرېشانه وي خو زه پوهېږم چې بريا به بياهم ستا په برخه وي ، زه پرېشانه شم ، هغوی يو بل ته وګوري او بيا يې زما حالت په تعجب کې واچوي

لاسونه ښکل کړم خو په سترګو او زړه کې مې يوه نوې خوښي څرکونه وهي ، پوهېږم چې دغه ټول دردونه ستا يادونه راڅخه اخلي ، زه په درد کې روان يم خو دخوښۍ په لور ځم ، پوهېږم چې ته مې

# اووه ورځې، اووه فریادونه

ګل رحمن رحماني

**لومړۍ ورځ – لومړی فریاد – پنجشنبه**

لمر راوخوت، زرینې وړانګې یې د ګاډي له کړکیو راپرېوتې، زه په لاره روان یم، سترګې مې برېښي، یو خوا ته مې غر او بل خوا مې مست سیند روان دی، دلمر وړانګې په دواړو لګېږي خو هم د سیند له زرینو څپو او هم د غرونو له ښیښه یي کمرونو بېرته انعکاس کوي او زما په سترګو لګي، بس شېبه په شېبه همدا راته وایي چې د نړۍ په یوه لرې کنج کې چې اوس یو څوک له خوبه راویښ شي او دلمر وړانګې دا پیغام ورکړي چې ګران یې په ډېر لرې سفر روان دی؛ نو څه به کوي ؟ایا دې ټولو سزا ستا په غاړه نه ده؟ زه هم مخامخ لارې ته ګورم او له ځان سره یوازې هو وو ایم.

**دویمه ورځ – دویم فریاد – جمعه**

له مودو وروسته د کور دروازې ته لنډ شوی یم، په ذهن کې مې بېلا بېل سوچونه د ماشومانو غوندې په ترپکو ځغلي را ځغلي، کله وایم مور به څوک خبروي، څوک به زېری ورباندې کوي؟ څه به وايي؟ په کوم ځای به مې ښکل کړي له ډېرې غوسې نه خو به په مخ څپېړه نه را کوي؟ په شونډو مې موسکا خوره شي، پښه نیولی شم او زړه نازړه دروازې شرنګولو ته لاس کړم خو ناڅاپه مې یو څوک را یاد شول، ډېره لرې یوازې ناسته ده، د ماشومې غوندې یې سترګې له اوښکو ډکې او سرې دي، راپسې خفه ده او له ډېره خفګانه غصې اخیستې، په زړه کې پټه پټه راپسې ژاړي، لاسونه مې مړاوې او پښې مې سستې شي، ځای په ځای ودرېږم او د دروازې مخکې راته ستا مړاوې څېره وخاندي.

**درېیمه ورځ – درېیم فریاد – شنبه**

د کور په حجره کې ویده یم، سهار وختي یو ځل بیا لمر راختلی، کړکیو ته نږدې په ونو کې مرغان چغېږي، د کور شاته مو د ښوونځي د ماشومانو شور ماشور دی او په شور زوږ سره په مستۍ مستۍ د ښوونځي په لور روان دي، راته یاد شي چې زه هم یو وخت همداسې څوک وم او په دې ډله کې به مې منډې وهلې. خو هر څه پای ته رسېدلي ډېر داسې ماشومان منډې وهي چې زما د ماشومتوب په وخت کې نه و خو اوس هغوی روان دي او زه ویده یم، دروازه ټکېږي، وړوکې وربرونه مې نارې وهي، کاکا ... کاکا پاڅه لمر راختلې! زه هم پاڅم، سترګې وموښم خپل لیدلی خوب بیا سترګو ته راولم، ته پرېشانه ناسته وې، زما په اړه سوچونه کوې او دوه ماشومان دې مزاحمت کوي خو ته نه پوهېږې چې ما ته غصه شې او که هغوی ته؟ زه هم پاڅم ته له خوبونو راووځې او ټوله کوټه ستا انځورونه ونیسي. ستا د مړاوې څېرې او خپه زړه دردونه ټوله کوټه د فریاد او خواږه درد په رنګونو وپوښي.

**څلورمه ورځ – څلورم فریاد – یکشنبه**

مازدیګر دی، د سیند په غاړه له خپلو ملګرو سره ناست یم، هغوی ټول را ته خبرې کوي، شعرونه وايي او د فطرت د ښکلاوو په ستاینو سر دي، خو زه په چمن کې مړاوی ناست یم، پښې مې غځولې او سیند ته یوه یوه شګه غورځوم، په روانو اوبو کې کړۍ جوړوي، وړاندې ځی او ورکېږي، کله کله کبان هم په دغه دایرو کې را ایسار شي او په ور غورځېدلي کانې پسې لامبو وهي. زر مې پام شي چې زه هم یو کب یم او دیوه سپېڅلي زړه نه په را اوچتو شوو زرینو څپو کې نغښتی یم، داسې څپې چې له ما سره روانې دي او ما له ټکرونو او ګردابونو ساتي، همدا څپې په اوبو کې هم ستا د ښکلا او زړه ورېمې خوروي او ما د دې لپاره هڅوي چې یوازې ستا لپاره په مینه او ویاړ سره ژوند وکړم.

**پنځمه ورځ – پنځم فریاد – دوشنبه**

ماښام دی، په یوه اوچته برنډه یواځې په لمانځه ولاړ یم، هرځل ناکامه هڅه کوم چې ټول حواس، زړه او روح مې د هغو له حقیقي مالک سره ملګري کړم خو بیا ګڼې اندېښنې او یادونه رامخکې شي، زړه او روح مې له دغه ستر او لا یزاله ذات بل خوا وړي خو یو څه تل راسره وي او بل خوا ته مې نه شي وړلای، فکر کوم چې ډېر لرې دیوه سپېڅلي، درد بېدلي مات، خو روښانه او خواږه زړه ساتنه را دغاړې ده، پروردګار ته خپل ټول عجز او زاري وړاندې کړم، دد ې توان او حوصله ورنه وغواړم چې په خپل دغه مسؤلیت کې مې کامیاب لره، خو ورسره په هره سجده کې دا شکرونه هم ادا کوم چې په یوه داسې پاک کور کې دې ځای راکړ، په کې اباد دې کړم او دې حد ته دې را ورسولم چې اوس مې پردی نه ګڼي، په درد کې راسره درد بېږي او خندا کې راسره خوښ او په خندا وي. بس په همدې توګه د ماښام لمونځ رانه د نورو معمولي وختونو څخه اوږد بېږي.

**شپږمه ورځ شپږم فریاد – سه شنبه**

له خپلې مورجانې سره ناست یم، دواړه د تېرو وختونو کیسې کوو خو مور مې راته د ماشومتوب خبرې کوي، کله کله راته خاندي، شېبه وروسته زموږ خنداګانې زما وریندار ګانې اوري، په خوښۍ زموږ خوا ته راځي، تر څنګ مو کېښني او ټول د هغې په خوا کېږي، په همدې وخت کې زه ورنه د ځان خلاصولو هڅه کوم، له جیب نه مبایل را وباسم، روښانه یې کړم، خو بیا شبکې کار نه کوي، څپه نه لري، وړوکی وراره مې راته وايي:

کاکاجانه! طالبانو زموږ شبکې بندې کړې، زما پلار جان هم زنګ نه شي را وهلی، زه لاس اوچت کړم، له ټیو ټیو سره د صفحې په مخ لیک راځي زرېې پرانېزم، ستا لیک وي، په مینه او تلوسه یې وګورم خو زړه مې ود رد بېږي تا راته زه پوهېږم چې یو چا ته څومره اړیم او هغې هم په ټوله نړۍ کې له هرچا وړاندې خپل فریاد ما ته کړی ژر له سترګو را روانه اوښکه پاکه کړم خو دا کار مې د درد پټولو یوه ناکامه هڅه وي.

**اوومه ورځ – اوم فریاد چهار شنبه**

بیا هم د مخه ښې شېبې دي، زړه مې درد نیولی، بیا د خپلې مور په مخکې ولاړ یم، لاس یې ښکلوم او په یوه سفر روانېږم، دا شېبه له ما نه تاسې ښه انځورولی شئ، په تاسې ټولو به کله کله په خپل ژوند کې داسې شېبه راغلې وي، چې د خپلې مورجانې مخکې ولاړ وئ او مخه ښه ترې غواړئ، زه خپلې اوښکې پاکې کړم، د مور ډېر په بې صبرۍ انتظار کوې؛ نو ځکه خو مې قدمونه ګړندي شي، هوا ته وګورم او ستا پاک زړه ښکل کړم، ژر راته څرګنده شي چې د دوو سپېڅلو زړونو تر منځ یم او د دوو انسانانو د دعاګانو په وزرونو کې نغښتی یم.

واه دادی را ورسېدم، اوس نو تر ټولو سخته او دردونکې شېبه ده، ځکه چې له تا سره مخامخ کېږم، رانه خفه یې او زه دې د پخلا کولو الفاظ ګورم، څومره رنګینه ده دا شېبه، کله کله وایم چې هسې نه دا هم زما د ژوند د ځینو نورو شېبو غوندې ستا یاد او یو زړین نه هېرېدونکی خوب وي.

---

# (د ختیځ پېژندنې مسایل)

څېړنپوه عبدالرحیم بختاني خدمتګار

(( د ختیځ پېژندنې مسایل)) د مقالو هغه ټولګه ده، چې د سمرقند دولتي پوهنتون له خوا په ۱۹۷۷ ز. کال کې، په (۹۷) مخونو کې چاپ شوې ده.

دغه د مقالو ټولګه ،د ختیځ پېژندنې په مختلفو مسایلو پورې اړه لري. د ټولګې ځینې مقالې، د ژبپوهنې مهمو مسایلو ته ځانګړې شوې دي. په دغو مقالو کې د ژبو د جمله بندۍ، ګرامري مسایلو د ختیځو ژبو د اړیکو په اړه څېړنه تر سره شوې ده.

همدارنګه، په ځینو مقالو کې د کلاسیکې او معاصرې ادب پوهنې په اړه هم معلومات وړاندې شوي دي.

کتاب په سریزې سره پیل شوی دی. د سریزې په یوه برخه کې، د کتاب د محققینو په اړه داسې لیکل شوي:

(( د ختیځ پېژندنې مسایل ،د هغو علمي –څېړنیزو کارونو دوام دی، چې د ژبو او ادبیاتو په برخه کې د ختیځ پېژندنې مهمو او مختلفو مسایلو پورې اړه لري.

دغه مقالې د سمرقند پوهنتون د ختیځو ژبو او ادبیاتو دیپارتمنت، د تاجکي ژبې او ادبیاتو دیپارتمنت او د بهرنیو ژبو د پوهنځي د محققینو له خوا لیکل شوې دي. همدارنګه، د مسکو، سن پیترز بورګ او تاشکند د علومو اکاډمیو محققینو هم په دې علمي کار کې برخه اخیستې ده)).

په دې کتاب کې، د نورو مقالو تر څنګ، د ازبکستان د نامتو ختیځ پوه پروفیسور عبدالحفیظ غنی اف علمي –څېړنیزه مقاله: (( د معاصرې پښتو ژبې د مرکبو فعلونو مسایل )) تر سر لیک لاندې چاپ شوې ده. له دې مقالې نه پرته، د یاد شویو مسایلو په اړه ،نورې نه علمي –څېړنیزې مقالې چاپ شوي دي.

نوموړی کتاب، د ژبپوهنې او ادبیاتو په برخه کې خورا غوره او معتبر ماخذ ګڼل کېږي. څېړونکي کولی شي، د خپلو څېړنو په ترڅ کې، له دې معتبرې منبع نه علمي ګټه تر لاسه کړي. څرنګه چې دا کتاب د افغانستان او د سیمې هېوادونو د ژبپوهنې او ادبیاتو په برخه کې علمي او څېړنیزې مقالې لري. نو په دې برخه کې زما وړاندیز دادی، چې دا مقالې په پښتو او د افغانستان په نورو ژبو وژباړل شي.

# لنډۍ او سلیمان لایق

ښېرپوه علي محمد منګل

چې کیسې کړې شونډې دې رېږدي
لکه ګلاب چې د ګهیځ شمال وهینه
ما درته نه وې شرمېدمه !
د سپینو لېچو سره بنګړي مزه کوینه

په روان بهیر کې، اکاډمسین سلیمان لایق، چې په ملي او بین المللي کچه پېژندل شوی، فرهنګي شخصیت دی، زما په لږه پوهه، چې نه پوهېږم، د لنډیو او سندرو سره د زیاتې مینې او علاقې له مخې یې، د ولسي ادب د شعرونو په لړ کې، ډېرې ژورې مینې له امله، د لنډیو د بحر الکاهل په باب او د دغه ستر سمندر د ژور روان تل، له رڼو څپو څخه د سلګونو ګوهرونو د ارزښت په باره کې، ښېخې ډېرې عالي او ژورې څېړنې او تحقیقات، په روانه ژبه، په ادبي رنګینۍ، د پښتو ادب ستري لمنې ته، د ډېرې درنې تلپاتې پانګې په توګه وړاندې کړې دي، لنډۍ یې، د هرې ادبي ډډې له مخې، په تېره د ښځو د ژوندانه د ټولو خواوو په برخه کې، روښانه یادونې، په رښتینتیا سره هراړخیزې یادونې کړې او غوړولې دي، د دوی ننګ او غیرت یې ستایلی، په دوی باندې ظلم، ستم، تېری او ځورونه یې هم په ښه توګه یاد کړي او ډېر ژورپټ حقایق یې ښکاره کړي دي. په دغه برخه کې، د سلیمان لایق ډېری ډېری یادونې د پوره اهمیت او ارزښت وړ دي.

د ده لیکنې، د لنډۍ د شعري او فولکلوري قېمت او رغښت په باره کې، زما په کمه پوهه، د یوې نوې بڼې په را ښرګندېدو سره، د یوه خاص نوي ادبي سبق او درس رنګینې او په دې برخه کې غوره ادبي تحلیلي پلوشې لري.

ده د لنډیو د عالي ادبي دُردانو ادبي ارزښت، د جهان له ولسي ادب سره د پرتلنې له مخې داشعر ترلمر، زحل او مریخ جګ بللی، چې سیالي نه شي ورسره کولای او نه دغه ادبي رنګینې په کې پیدا کېږي، چې د ده د لیکنې دوه ځانګړې پارا ګرافونه او ټوټې به د لنډیو د شعري او ادبي ارزښت په اړه، دلته په مرلي او چن ډول درته په ټوله ادبي مینه وړاندې کړو، چې را ته کښلي یې دي: ((... د پښتو د فولکلوري شعرونو په لړ کې، د لنډیو برخه واقعاً د ټول بشریت د فولکلوري شعرونو د عظیمې شتمنۍ یوه مهمه برخه ده، د لنډیو ستر اهمیت دا دی، چې د هغه سندریز خصوصیت او آهنګ روزونکي فطرت د نړۍ په ټولو فولکلوري شعرونو او سندرو کې ممتازدی او ساری نه لري، کله چې زه د لومړي ځل له پاره د لنډیو په دې خصوصیت باندې پوه شوم او د نورو ملتونو مشابهو شعرونو په مقایسه کې، د لنډیو دلس هاوو غاړو او آهنګونو موسیقي مې یو څه مطالعه کړه، ځان مې په داسې یو لوی دریاب کې ولید، چې د هغې د څېړنې او مطالعې ستر کار، چې ما یې نیت درلود، وارخطا کړم، کوم سترنړیوال شاعران او ادب پوهان، چې واقعاً د لنډیو په دې خصوصیت باندې پوه شي، دغه اشعار به دومره وستایي، چې اوسنۍ متمدنه نړۍ به ورته حیرانه شي.))

د همدغو لنډیو په اړه، بل ځای داسې کاږي :

(( لنډیو د انسان د احساساتو، عواطفو، دردونو، رنځونو او انګېرنو ډېر عالي او دقیقه درجه بندي کړې ده او هغه یې د ډېر خواږه او ظریف بیان په موسیقۍ کې وړاندې کړې دي، زموږ د جغرافیایي سیمې په ټول فوکلوري قلمرو کې هېڅ سندره، نه د خپل اهنګي خصوصیت او نه د خپلې تغزلي شتمنۍ او نه د خپل سموالي او هیجان له پلوه ،له لنډیو سره برابري کولای شي، لنډۍ که څه د بکوا په دښتو کې زېږېدلې وي، که څه د بامیانو د بتانو په لمریځه ناوه کې، څه د پکتیا په ګڼو او ګورو ځنګلونو کې، څه د آمو په غاړو او څه د هندوکش په ځوړو کې ګډې، ورته او مشابه سیمې لري.

له دې نه، چې د ملت ورک او بې نشانه شاعر توانېدلی دی، د بشر د احساساتو ژوند تر ټولو عالي شېبې په دوو نامتوازنو مصراعو (یوبیت) کې په ایجاز بیان او تصویر کړي، انسان حیرانېږي، همدا اوس د شپنو، او ښبنو په آوازونو کې داسې لنډۍ اورو، چې په هغو کې تغزلي خوځند توب هسې کمال ته رسېږي، چې لا تر اوسه، د هېڅ پښتو ژبي شاعر لاس هغه ته نه دی رسېدلی، دا لنډۍ د دې تودې ادعا ژوندۍ سپرغۍ دي:

بادیې پر مخ څڼې خورې کړې
په لمر را پرېواته د وریځو تنابونه
پر دنیا سره وړانګه پرته ده
لیلی په څڼو کې غا ټول ټومبلي دینه
خبرې کړې شونډې دې رېږدي
لکه سور ګل چې د سهار شمال وهینه
په زلفو وروورو رمنځ را کاږه
هلته زما د زړګي کور دی وران به شینه
په لاره ځم ټوله شرنګېږم
ستا د تومت ځنځیر په غاړه ګرځومه.))

په دې ډول سره وینو، چې د لنډیو په اړه، د استاد لایق څېړنې په خپله ادبي عالي برخه کې شهکارونه دي. په دې لنډۍ به یې لمن را ټوله او غبرګه کړو، چې د لمنې ګل به یې شي :

ارمان به وکې وخت به تېر وي
بیا به جهان را پسې ګورې نه به یمه

د منګلو په لهجه به هم، دا لنډۍ پسې سپرغه کړو :

چې رونه لوړې ارمون روغی
ولې مو تېنګ په غېږ کې نه نیوې مېینه
معیاري بڼه یې: چې رانه لاړې ارمان راغی
ولې مې تېنګ په غېږ کې نه نیوې مېینه

# د ادبي تذکرو ارزښت

ښېرندویه ملکه مشتري

تذکره لیکنه کابو د نړۍ د ټولو قومونو او د ټولو ژبو په ادب پېژندنه کې ، خو په ځانګړي ډول د ختیځو ولسونو په ادبیاتو کې لوړ مقام لري. د تذکرو تذکره لیکنه، د هغو څېړنه او ښودنه، راټولونه او پرتلنه ډېره مهمه او ستره موضوع ده چې زیات کار او پراخه حوصله غواړي.

د شاعرانو او لیکوالو تذکرې د ادبیاتو د تاریخ د څېړونکو او پلټونکو له پاره د کار او څېړنې ستره ارزښتمنه منبع ده، چې په ذریعه یې د ولس معنوي تاریخ د ځلانده څېرو او د هغو د فکر او په هغه کې د ولس د ژوند د یوه ځانګړي پړاو د انعکاساتو له څرګندولو سره پوره پوره مرسته دي، دا چې تذکره لیکنه په افغانستان کې په بنسټیزه توګه له څه وخته راپیل شوې، په دې موضوع منظمه او سیستماتیکه څېړنه شوې او روانه به وي دا ځکه چې کال په کال نوې تذکرې له چاپ څخه راوځي او که په لنډه توګه وویل شي، د ترلاسه شوو آثارو پر بنسټ د پښتو د پخوانیو تذکرې د یو لیکوال، شاعر، ادیب او یا د ټولنې د بل پوړ د مهم او نومیالي کس د بیوګرافۍ د ورکېدو مخنیوی کوي او د ژوندي تاریخ حافظې ته یې سپاري.

د هغو وګړو سره مو اشنا کوي چې په اړه یې هېڅ ډول معلومات نه لرو او نه مو دي لیدلي.

د تاریخونو له شرحې سره مرسته کوي، د ساري په ډول : که په تاریخ کې د یو کس یوازې د نامه یادونه شوې وي، تذکره ښایي، هغه کس په ځیر او جزئیاتو سره راوپېژني.

تذکره لیکنه د ژبې د بډاینې او پرمختګ لپاره ډېر ګټور کار دی.

ادبي مؤرخ له متن څېړونکي مرسته غواړي او له ادبي تذکرې څخه ګټه اخلي.

ادبي تذکره ځینې هغه لیکوال او شاعران معرفي کوي چې په ادب تاریخ لیکنه کې ځای لري او ادب تاریخ د غوره ماخذ په توګه ورڅخه ګټه اخیستلای شي.

په ادبي تذکره کې ځینې نامتو او مشهور ادیبان معرفي کېږي، په دې معنا چې د ادبي تاریخ څېړونکي د هغو له احوالو او کړنو سره اشنا کوي.

اخځلیکونه :

کېږي.(۱)

تذکره لیکنه د خپل ارزښت او په ادب تاریخ لیکنه کې دا همیت له مخې د یوه ځانګړي فن په توګه پېژندل شوې ده، همدا تذکرې دي، چې ادب تاریخ خوندي کوي او د لرغونو زمانو د شخصیتونو افکار، اقوال، آثار، خیالات او کارنامې په خپلو پاڼو کې ساتي، پخپله تاریخ ګرځي او د یوه ژوندي تاریخ په توګه پاتې کېږي.(۲)

زموږ په ګران هیواد افغانستان او سیمه کې د ادبي تذکرو لیکنه په یوه نه یوه بڼه له پخوا څخه دود وه، چې د هغه مهال او چاپیریال له غوښتنو او شرایطو سره سم به لیکل کېدې، له دغو تذکرو څخه ځینې تر موږ هم رارسیدلې ادبي تذکرو په لړۍ کې د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء (چې اوس یې یوازې څو پاڼې زموږ په واک کې دي) او د محمد هوتک پټه خزانه چې بشپړه تر موږ رارسیدلې ده.(۳)

لنډه دا چې، د ادبي تذکرو ارزښت او په ادب تاریخ لیکنه کې یې اهمیت، په لاندې پر ګرافونو کې، داسې بیانولی شو:

د تذکرو ارزښت او په ادب تاریخ لیکنه کې یې اهمیت خورا ډېر دی. همدا تذکرې دي چې پاچاهان، ادیبوهان، لیکوال، تاریخپوهان، هنرمندان، خطاطان او نور ډېر مشهور او نامتو اشخاص راپېژني او موږ د هغوی له هنري کړو وړو سره اشنا کوي. او د ادب تاریخ په بشپړونه کې مرسته کوي.

د علم، هنر، دولتدارۍ او تمدن په ډګر کې مو د نامتو او سرلوړو کسانو سره اشنا کوي.

لوستونکي دې ته هڅوي چې د دغو نومیالیو په څېر کارنامې ترې راپاتې او د تاریخ ویاړ شي.

د لیکوالو او شاعرانو په اړه رښتینې معلومات وړاندې کوي او د ادب د مینه والو تنده خړوبوي.

د تذکرو ارزښت په دې کې دی چې د لیکوالو په اړه خواره واره معلومات راټولوي.

ادبي تذکرې د ادبي تاریخ لیکنې له پاره تر ټولو مهم او غوره او مهم یا خام مواد برابروي.

تذکرې په ادبي تاریخ لیکنه کې او د تاریخ لیکنې په نورو ډولونو کې له کرونولوژیک تسلسل سره مرسته کوي.

تذکرې عام وګړي د پوهانو او رجالو د بېلابېلو څېړو سره اشنا کوي.

تذکرې د لیکوالو بېلابېل سبکونه رانښیي.

نړیوالې تذکرې موږ د نړیوالو څېړو د آثارو او افکارو سره اشنا کوي.

ادبي تذکرې د شاعرانو او لیکوالو آثار، افکار او اشعار له ورکېدو څخه ژغوري.

ادبي تذکره د یو ادیب، لیکوال او شاعر د ژوند لیک په بشپړولو کې مرسته کوي.

د ادیب، لیکوال او شاعر د نظم ونثر بېلګې وړاندې کوي.

د ادیب، لیکوال یا شاعر د ژوندانه یا وخت پر سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه اوضاع تاریخ لیکونکي پوهوي.

۱.بختاني خدمتګار، سرمحقق عبدالله، پښتانه شعراء، (شپږم ټوک)، د افغانستان د علومو اکاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز، بهیر مطبعه، ۱۳۹۱ل. کال ۶، ۵مخونه.

۲.سعید، مولوي محمد ګل، د افغانستان مفاخر، لومړی ټوک، پېښور، ۱۳۹۰ل. کال، ۱۲۸ مخ.

۳.ناصر، سرمحقق نصرالله، د اجمل ختټک یاد، داجمل ختټک د زوکړې د اتیایمې کالیزې په ویاړ جوړ شوي سیمینار د مقالو ټولګه، د ارواښاد خان عبدالغفار خان د شلم تلین نړیوال سیمینار په مناسبت، د لوړو زده کړو وزارت مطبعه، ۱۳۸۶ل کال، ۹۴ مخ.

د کوچنیانو له پاره کیسه

# نېکي

ځېړنوال محمد نبي صلاحي

یوه ورځ یوه باز په یوه ځنګله کې، یوه داسې وزه ولیده، چې د فیل په شا باندې سپره وه. دغه باز له دغې وزې نه پوښتنه وکړه، چې په تا کې څه کمال دی، چې د فیل غوندې یو پیاوړی حیوان دې په شا ګرځوي؟!

وزې ورته وویل: په تېرو وختو کې، په دغه ځنګله کې د یوه زمري مور مړه شوه او هغه یتیم پاتې شو. زما ښښتن به چې کله زه لوشلم، نو پوره شیدې به مې نه ورپرېښودې. یو څه به مې په خپله غولانځ کې ترې غلې کړې او په یوه چل ول به مې دغه یتیم زمري ته، خپل ځان ورساوه او خپلې پی‌ به مې ورکړې. څه وخت چې، دغه زمری لوی او غټکی شو، نو د دغه ځنګله پاچا شو. هغه زمري دغه فیل راوغوښت او ورته یې وویل: دغې وزې په ما شومتوب کې له ما سره نېکي کړې ده. اوس چې الله تعالی (ج) زه د ځنګله پاچا کړم، نو زما دا حکم دی، چې ته به تر مرګه پورې، دغه وزه په شا ګرځوې.

وزې زیاته کړه: بازه ګله! ته هم نېکي کوه، دغسې مقام به دې په نصیب شي!

باز وویل: دا خو ډېره ښه خبره ده. شپې او ورځې وتې، بله ورځ باز یو موږک ولید، چې په ختټه کې نښتی دی او له ډېرې یخنې نه سخت رېږدي. باز ورو ورو، له دغه موږک نه ختټې لرې کړې او بیا یې په هغه باندې، دواړه وزرونه (کوځرونه) وغوړول. په دې وخت کې، باز ته زیات خوب ورغی. څه وخت، چې موږک ګرم شو، ورو یې، د دغه باز یو وزر وخوړ او سوری یې کړ.

کله چې باز له خوب نه راویښ شو، ګوري چې له مخامخ ونې نه یوه مرغۍ والوته، باز سملاسي پرې غوټه کړه. په دې وخت کې، مرغۍ ترې خلاصه شوه او باز له ونې سره ولګېده. باز ګوري، چې موږک یې وزر سوری کړی دی. ډېر خواشینی شو او په زیات قهر سره، بېرته هغې وزې ته ورغی. باز هغې وزې ته وویل: تا ویل، چې نېکي کوه. اوس ما یو موږک له ختټو راوکېښ او په خپلو وزرو کې مې پټ کړ. څه وخت چې تود شو، سملاسي یې زما وزر وخوړ، اوس ښه نه شم الوتی. ښکار او هر څه رانه پاتې دي. اوس مې ښه مقام په نصیب شو!

وزې ورته وویل: «-ښه له هغه چا سره کوه، چې د ښو په ارزښت پوه شي. ښه کوه، له زمریانو سره، نه له موږکانو سره!»







## ژوند

عمــــــر ډېــــــر و، عقـــــل لـــــږ و
عمـــــر لـــــږ شــــو،عقل ډېـــــر شــــو
یـــــو ژونــــــدون و پــــــه جهـــــان کــــې
پـــــه دا شـــــان ســـــره تېربېـــــر شـــــو
د ځـــــــوانۍ عمـــــــر خوشـــــــحاله
خـــــوب و، ولیـــــده شـــــو،تېر شـــــو

خوشحال ختټک

## څلوریځه

ســـوله اړینـــه، نېکمرغـــي راولـــي
غمجنـــو زړو تـــه خوشـــحالي راولـــي
لـــــه بـــــدبختیو - نـــــاورینونوځنې
د تـــــل لپـــــاره ســـوکالي راولـــي

څېړندوی فریدالله نوري

چهارشنبه ▣ ۲۱ – ۲۴ مه ګڼه ▣ درېیمه دوره ▣ پرله پسې ۲۴۵ – ۲۴۸مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د کب (حوت) ۲۶ مه ▣ ۱۴۳۷هـ ق کال د جمادي الثاني ۶مه ▣ ۲۰۱۶ زېږدیز کال د مارچ ۱۶ مه ▣ ۴مخ

# زېری

پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړنوال محمدنبي صلاحي
مهتمم: څېړندوی عبدالاحد منګل
کمپوز او ډیزاین: م. ص.
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۹۹۸۶۱۲۹۹

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار، افغانستان _ کابل_

په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

# منظمه مطالعه

▣ اجمل ښکلی

له زیاترو فارغو محصلینو نه چې پوښتنه وکړې، چې مطالعه، لیک کوې؟ ځواب یې دا وي، چې مصروف یم؛ خو خبره له مصروفیته نه، له مطالعې پاتې ده.

که یو لیسانسه یا ماستر یا بل سړی خلکو ته ځان لوستی او پوه ثابتول غواړي، نو مطالعه او لیک حتمي دی. دا پر تا د خپل مسلک او خلکو حق دی.

مطالعه لومړی او لیک ورپسې دی، خو له مطالعې سره فکر ضروري دی. که څوک یوائې مطالعه وکړي او د کتاب خبرې د کاڼي کرښه وبولي، نو هېڅ کمال نه شي کولی. د لیک لپاره لوست حتمي دی، خو فکر مقدم دی.

لیکوال چې منظمه مطالعه نه کوي، له څو تاوانونو سره مخامخ کېږي. یو دا چې اړتیا نه شي درک کولی، چې زما ټولنه یا ژبه څه شي ته اړه ده. بل دا چې فرضیه -چې د څېړنې او لیکوالۍ بنسټ دی -ورسره نه پیدا کېږي او چې فرضیه ورسره نه وه، سر وهلی بر وهلی به ګرځي او هېڅ به ونه لیکي او بل دا چې کېدای غوراوی دی. په یوه وخت د بېلابېلو موضوعاتو د اړوندو کتابونو لوست، سړی ګډوډوي او د نظر خاوند کېدو ته یې نه پرېږدي. لومړی خو په کار ده، چې سړی له خپل مسلکي ضرورت سره سم آثار، مطالعې ته انتخاب کړي. وروسته ورسره کېدای شي، د مطالعې داسې یو ظرف، ترتیب (Setup) جوړ شي، چې د هر کتاب مطالعه پکې ضم کېږي او موضوع در ته بې معنا نه وي.

د لوستونکي او لیکوال د مطالعې توپیر دا دی، چې لوستونکی لوست ته، د ذوق له مخې کتاب خوښوي. د نمونې په توګه: یوائې شاعري لولي، یا شاعري خوند نه ورکوي، داستاني ادبیات لولي. داسې لوستونکي هم وي، چې د یوه لیکوال یا شاعر مینه وال وي او د همغه آثار لولي؛ خو د څېړونکي او لیکوال انتخاب پر اړتیا ولاړ وي. لوستونکی د ذوق غلام وي او د څېړونکي ذوق غلام وي. لوستونکي ته چې یو اثر خوند ورنه کړي، نور یې نه لولي، خو د لیکوال او څېړونکي ذوق یا پېړۍ آثار انتخاب او مطالعه شي. د مثال په ډول: لومړی، د پښتو ادب د دویمې دورې شاعران ولولي، بیا د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي، بیا د دویمې نیمایي او داسې پسې راځه.

په دې ټولو غوراویو کې تخلیقي او څېړنیز ادبیات، اوږه پر اوږه رارروان وي. مثلاً: لومړی دې، د شاعر په اړه شوې څېړنه ولوسته، بیا دې یې دېوان ولوست. یا دې لومړی لنډې کیسې ولوستې، بیا د دې لیکوال د لنډو کیسو په اړه شوې کره کتنه ولوسته.

د مطالعې لپاره، لومړی په خپل مسلک کې د کتابونو غوراوی په کار دی. د هغو مسلکونو ډېره مطالعه اړینه نه ده، چې ستا له مسلک سره چندان تړاو نه لري، ځکه چې بیا دې، ورسره د خپل مسلک مطالعه اغېزمنېږي او کېدای شي ،ورته مایل شې، چې بیا به په خپل مسلک کې سم فکر نه شې کولی. د ساري په توګه: د ادب د لیکوال له پاره د ریاضي مطالعه څه په کار، خو کوم مسلکونه، چې ستا له مسلک سره تړلي

# د ادبي او فرهنګي خبرونو کرونولوژي

څېړندوی محمد اصف احمدزی

**د عبدالرحمان رحیل د (سره مینه او توده وینه) کتاب مخکتنه وشوه**

په لوګر کې، د ولسي شاعر او لیکوال عبدالرحمن رحیل د نوي چاپ شوي کتاب (سره مینه او توده وینه) مخکتنه، د سلواغې په ۲مه نېټه وشوه. دغه غونډه، چې د لوګر د ځوانانو ټولنیزې او کلتوري ټولنې له لوري جوړه شوې وه، د لسګونو لیکوالو او شاعرانو په ګډون سرېیره، د لوګر د ولایتي شورا مشر او غړو هم برخه اخیستې وه. په دې غونډه کې، لومړی ویناوالو د رحیل پر شخصیت، لیکوالۍ او شاعرۍ خبرې وکړې، ورپسې د نوموړي کتاب مخکتنه تر سره وشوه. د رحیل د معلوماتو له مخې، له تېرو شلو کلونو راهیسې لیکوالي او شاعري کوي او تراوسه پورې یې، تر دونیم زره پورې شعرونه او غزلونه لیکلي دي، خو یوائې یو کتاب یې تر دې دمه چاپ شوی دی.
رحیل د لوګر د محمداغې ولسوالۍ د کتب خېلو کلي اوسېدونکی دی.

**پښتو ژبه د ګوګل د ژباړې سیستم ته ور ددننه شوه**

پښتو ژبه د انټرنټ د مشهورې شبکې ګوګل چې د نړۍ په ګڼو ژبو د ترجمې وړیا خدمتونه وړاندې کوي، د ژباړې په سیستم کې د ۱۳۹۴ لمریز کال د سلواغې په ۲۹مه، ور زیاته کړل شوه. یو شمېر پښتنو لیکوالانو په رضا کارانه توګه د دې له پاره هڅه وکړه او سلګونه زره کسانو د انټرنټ له لارې د ګوګل شبکې له مسوولینو غوښتي وو، چې پښتو ژبه هم په ژباړه کې ور داخله کړي، چې په پایله کې یې ګوګل دغه کار وکړ. ګوګل چې په نړۍ کې یو له مشهورو پلټونکي ماشین څخه ګڼل کېږي، له څو کلونو راهیسې یې د ژباړې برخه هم فعاله کړې وه، چې په کې د نړۍ لسګونه ژبې یو بل ته ژباړل کېږي، خو پښتو ژبه په کې نه وه. د دغه سیستم له مخې، د ګوګل ژباړې کارکوونکي کولی شي نورې ژبې پښتو ته او یا هم پښتو نورو ژبو ته واړوي. د پښتو ژبې په ور زیاتولو سره د ګوګل ترجمان د ژبو شمېر ۱۰۳ ته ورسېد. د هېواد حکومتي، علمي ،اکاډمیکو او فرهنګي بنسټونو او شخصیتونو ، ګوګل ژباړې ته د پښتو ژبې پر زیاتېدو خوښي څرګنده کړې او ویلي یې دي، چې د هېواد د اطلاعاتو او فرهنګ او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارتونه به له علومو اکاډمۍ سره په ګډه کار وکړي، چې د ګوګل په ژباړه کې پښتو ژباړه معیاري شي.

**"د نرګس ګل" مشاعره وشوه**

د ننګرهار په مرکز جلال اباد ښار کې د دغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست له لوري د "د نرګس ګل" مشاعره د سلواغې په ۳۰مه ترسره شوه. دغه مشاعره چې په سپین غر هوټل کې جوړه شوې وه، په کې ګڼ شمېر شاعرانو خپل شعرونه ولوستل. یاده شوې مشاعره تېر کال هم ترسره شوې وه.

**د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ ونمانځل شوه**

د مورنۍ ژبې نړیواله ورځ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مطبوعاتو د نړیوال مرکز په تالار کې د کب په دویمه ونمانځل شوه. د فبرورۍ ۲۱مه (د کب ۲مه) په ټوله نړۍ کې د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په نوم نمانځل کېږي. دا غونډه د یاد شوي وزارت، د یونسکو نړیوال سازمان، د افغان ګډې فرهنګي ټولنې د جرګې او د افغانستان د فرهنګ او ژبو د انکشاف او ملاتړ ملي بنسټ له خوا جوړه شوې وه، چې په کې ویناوالو د مورنۍ ژبې د اهمیت، د ملي وحدت او پیوستون په ټینګښت کې د ژبې د رول او په هېواد کې د ژبو پراختیا ته د پاملرنې په باب خبرې وکړې.

شي، په لیک کې لویې تېروتنې وکړي. تېروتنې خو جید څېړونکي هم کوي، خو کمې او وړې وي. څومره چې لیکوال مطالعه کوي، هغومره یې په لیک کې تېروتنې راکمېږي او پر یوه موضوع یا مسلک باندې، د منظم فکر و نظر خاوند کېږي. که په لیک کې دې لویې تېروتنې وکړې، نو د لوستونکي باور دربانديې کمېږي او ورو ورو یې دربانديې د نالوستي ګومان پخېږي.

لویه تېروتنه دا ده، چې لیکوال په خپل مسلک کې، له لویو پېښو سم خبر نه وي او ناسمې یې ولیکي. ښه لیکوال هغه دی، چې په ډېرو جزوي مسایلو هم پوه وي او ورته پام یې وي.

له منظمې مطالعې نه دوه معناوې راوځي :

یوه دا چې لوست ته یو وخت بېل کړې. که یو سړی هر څومره بوخت وي، دا دې پر ځان کره کړي، چې لـه دې وختـه تـر دې وختـه بـه یـو ساعت /دوه ساعته /درې ساعته زه مطالعه کوم او دا به لکه فرض لمونځ نه قضا کوم. که سړی کلک هوډ وکړي، نو د لیکوال په توګه د ځان بقا تثبیتولی شي.

د منظمې مطالعې دویمه معنا د کتابونو دومره باریکبین وي، چې په ډېرو ښېخوندیو کې هم د خوند ټکي پیدا کولی شي او په اسانه ،د یوه اثر په اړه قضاوت نه کوي، نو ذوق چې د قضاوت یو محرک دی، په لیکوال او څېړونکي کې، تر عادي لوستونکي پیاوړی وي او ذوق هم په مطالعه پیاوړی کېږي.

لیکوال یا څېړونکي -چې د مطالعې خاوندان وي -د خپلې مطالعې عیبجن اړخ ته ګوري. لیکوال به په ډېرو موضوعاتو پوه وي، خو په یوه موضوع کې به پنچ وي، خپله مطالعه به ورته د دې عیب له لاسه د کنډو دېوال غوندې ښکاري. یا به یې د یوې موضوع په اړه مطالعه محدوده او نیمګړې وي؛ لکه په سم سیده دېوال کې چې څو پرله پسې خښتې کږې لګېدلې وي. مطلب، استدلال پرې نه شي کولی؛ نو هر لیکوال او څېړونکي ته پکار دي، چې د خپلې مطالعې تشه معلومه کړي او د وړ اثر په لوست یې ډکه کړي.

که څوک نوې مطالعه پیلوي، نو د موضوع له پلوه هم آثار راټولولی او وار په وار یې لوستی شي او د لیکوال یا شاعر له مخې هم، چې د یوه یوه شاعر یا لیکوال آثار انتخابوي او لولي یې. وخت هم بد معیار نه دی، چې د یوه پېر یا دورې دي، د هغوی مطالعه په کار ده،لکه: د ادب د لیکوال له پاره، د فلسفې، اروا پوهنې، مذهب، سیاسـي تـاریخ، ټولنپـوهنې، ژبپـوهنې **او...** مطالعه ضرور ده. دا ضرور نه ده، چې ته دې، په هغه بل مسلک کې د ځانګوال هومره مطالعه وکړې، بلکې د هغو خواوو مطالعه یې په کار ده، چې ستا له مسلک سره اړیکه لري. د نمونې په ډول: فلسفي موارد، په ادب کې هم کارېږي، خو د دې لپاره د ټولې فلسفې مطالعه ضرور نه ده. په نورو مسلکونو کې مطالعه هله ګټوره وي، چې خپل مسلک کې دې، دقیقه مطالعه کړې وي او د نظر خاوند یې په کې، ګنې د خپل او ها بل مسلک په تړاو به پوه نه شې؛ نو خبره همدا شوه، چې لومړی خپل مسلک بیا بل.

لیکوال او څېړونکی د لوستونکي غوندې په پټو سترګو مطالعه نه کوي، بلکې د کره کتنې احساس ورسره د لارې مشال وي، چې دا احساس یې، د اثر تېروتنو او کمالونو ته پام وراړوي.

په مطالعه کې نظم ځکه ښه دی، چې مطالعه ورسـره اسـانېږي او خونـدورېږي. کـه څـوک لیکوال کېږي؛ نو لیکوالي، بې مطالعې او بې فکره نه شي.

له بلې خوا د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف ښار کې هم ځوانانو د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په یاد د کب په ۳مه، غونډه وکړه. دغه ځوانان ،چې د مورنۍ ژبې د نړیوالې ورځې په موخه د بلخ ولایتي شورا په انګړ کې راټول شوي وو، له حکومته یې په مورنۍ ژبه د زده کړو د زمینې برابرولو غوښتنه وکړه. دوی د دې غوښتنې تر څنګ په ګوګل ژباړن کې د پښتو ژبې د ور زیاتېدو هرکلی هم وکړ.

### د غني خان د شعرونو د انګرېزي ژباړې د ټولګې مخکتنه وشوه

د پښتو ژبې د وتلي شاعر غني خان د منتخبو شعرونو د انګرېزي ژباړې د اثر مخکتنه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري په کابل کې د کب په ۳مه، وشوه. دغه اثر انګرېزي ژبې ته امتیاز احمد صاحبزاده ژباړلی، چې په دې اړه جوړه شوې غونډه کې ویناوالو دا ژباړل شوی کتاب د پښتو ادب په پېژندنه کې نېک او لوی ګام وباله، چې د غني خان د نړیوالتوب لپاره به یوه لویه لاره خلاصه کړي. د ولسمشر فرهنګي سلاکار اسدالله غضنفر په وینا،، غني خان یو لوی، نړیوال او د یوه اصیل سبک او انداز خاوند شاعر دی، چې د دې کتاب په چاپ سره به، نوموړی په پاکستان او افغانستان کې نه، بلکې په ټوله نړۍ کې معرفي شي.

### د ماشومانو له ادبیاتو د ملاتړ له پاره مالي صندوق جوړ شو

"د افغانستان د ماشومانو د ادبیاتو کور "له خوا د ماشومانو له ادبیاتو د ملاتړ له پاره مالي صندوق د کب په اتمه جوړ شو. د دې بنسټ مشر اجمل تورمان وایي، دا چې په هېواد کې د ماشوم ادبیاتو د ودې له پاره ډېر لږ کار شوی، نو د یاد صندوق له پیسو به د ماشوم ادبیاتو د ودې لپاره کار واخیستل شي. یاد بنسټ له څلورو کلونو راهیسې د ماشومانو له پاره منظمې کیسې لیکلې، د ماشومانو د ذهني ودې لپاره یې د کانکور ازموینې او مشاعرې جوړې کړې او په دې برخه کې یې ګڼ علمي سیمینارونه جوړ کړي دي.

### (صرف بهایي ) پښتو ته وژباړل شو

د عربي ژبې ګرامر نامتو کتاب (صرف بهایي) ۷۲۶ کاله وروسته، د مفتي محمد نعیم سلطاني له خوا، په نوې بڼه په پښتو ژبه وژباړل شو او د لوګر والي محمد حلیم فدایي په نوښت او مالي لګښت سره ۵۰۰۰ ټوکه چاپ شو. په لوګر کې، د کب په ۱۴مه، د دې اثر مخکتنه وشوه. د دې مهم عربي صرف کتاب (ضَرب) په (خَدم) بدل شوی دی. (صرف بهایي) تقریباً د افغانستان په هره رسمي او نا رسمي مدرسه کې تدریسېږي. دا کتاب بهاءالدین آملي لیکلی وا وهغه په اتمه قمري پېړۍ کې اوسېده .

### په بلجیم کې د افغان کلتوري ټولنې له خوا مشاعره ترسره شوه

د بلجیم په انتورپن ښار کې د افغان کلتوري ټولنې په نوښت یوه لویه او پرتمینه مشاعره د کب په ۲۲مه ترسره شوه. په دې مشاعره کې د اروپا له بېلابېلو هېوادونو لکه جرمني، هالنډ، فرانسې، بلجیم، همدارنګه له افغانستان او عربي اماراتو څخه د ۳۵۰ په شاوخوا کې د شعر او ادب مینه والو ګډون کړی و. لومړی د کمکي ماشومانو له خوا ملي ترانه وړاندې شوه او بیا جاوېد احمدزي د افغان کلتوري ټولنې لاسته راوړنې په تېرو څو کلونو کې ګډونوالو ته بیان کړې. ورپسې سید رحیم یوسفي د کولن کلتوري ټولنې په استازیتوب خپل پیغام وړاندې کړ. وروسته د مشاعرې برخه پیل شوه او شاعرانو په کې خپل شعرونه وړاندې کړل.

### په لندن کې ادبي ناسته ترسره شوه

د انګلستان په پلازمېنې لندن کې د ځینو لیکوالو له خوا یوه ادبي ناسته د کب په ۲۳مه، ترسره شوه. دا ناسته چې د دوېندویۍ چارې یې نظیف تکل پرمخ وړلې، لومړی عبیدالله محک یو شعر ولوست. بیا پر یو شمېر ادبي موضوعاتو لکه هایکو او لنډۍ باندې بحث وشو. ورپسې د ګډونوالو له خوا شعرونه ولوستل شول او هم په کې عبدالوکیل سوله مل شینواري خپله لنډه کیسه ((هلته چې رتبې هم غنیمت وګڼل شي)) ولوسته او کره کتنه پرې وشوه. (سرچینه: تاند وېبپاڼه)

### ۱۰۲ عنوانه کتابونه یوځایي چاپ شول

د افغانستان د ملي تحریک له لوري په یوځایي ډول ۱۰۲ عنوانه بېلابېل کتابونه چاپ او خپاره شول. د دې کتابونو د مخکتنې غونډه د کابل ښار په کابل ستار هوټل کې د کب په ۲۷مه جوړه شوې وه، چې ګڼ شمېر سیاستوالو، فرهنګیانو او لیکوالو په کې برخه اخیستې وه. دا کتابونه چې له نیمایي څخه زیات یې د پښتو ژبې او ادبیاتو اړوند وو، د یاد شوي تحریک په هڅو او د مختلفو هېوادوالو په مالي مرستې سره د چاپ په ګاڼه وپسولل شول. د دې تحریک له لورې تېر کال هم شل عنوانه کتابونه چاپ او خپاره شوي وو.

### په ننګرهارکې د لومړي ځل له پاره د ماشوم ادبیاتو جشن جوړ شو

په ننګرهار کې د لومړي ځل لپاره د ختیځ زون د لیکوالو او ژورنالستانو خپلواکې ټولنې د ماشوم ادبیاتو جشن د کب په ۲۹مه جوړ کړ. په دې جشن کې د کابل، پکتیا او خوست پوهنتونونو یو شمېر استادانو او د ماشوم ادبیاتو د برخې ځینو کارکوونکو خپلې مقالې وړاندې کړې. د دې ټولنې د مسوولینو په وینا، د جشن له جوړېدو یې موخه د ماشومانو په افکارو کې د مینې زرغونول دي، چې په ترڅ کې به دوی په هغې موخې برلاسي ومومي، چې په خبره یې غواړي له دې ځایه ماشومان له خپل هېواد سره د مینې جوګه کړي. د کابل پوهنتون استاد او په ختیځ کې د یادې شوې ټولنې مشر لال پاچا ازمون وویل : په جشن کې د هغو ادبیاتو چې د ماشومانو لپاره لیکل شوي او همدأراز، هغه ادبیات چې د ماشومانو له لوري رامنځ ته شوي، په اړه یې معلومات وړاندې شول. د ماشوم ادبیاتو له پاره دا جشن داسې مهال جوړېږي، چې تر دا مهال په پښتو ادب کې دغې برخې ته ډېره پاملرنه، نه ده شوې.

## پښتو ته څنګه وده ورکړو؟!

**د پښتو اوسنی حالت څنګه دی او د راتلونکې په اړه یې ، څه فکر کوئ؟ !**

**له درنو لوستونکو نه، په ډېر درنښت سره هیله کېږي، چې د پورتنۍ موضوع په اړه مضمون را ته ولیکي، که دا مقاله کوچنۍ هم وي، خو چې دقیقه او علمي وي، "زېری" یې په ورین تندي مني.**